


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، تولنیزه ،علمي ، فرهنګي  او نشراتي ارګان  ته  ښه راغلاست!



# صیام الدین « پسرلی »

د نشر نیټه :  ۱۰ سپتمبر  ۲۰۱۳  میلادی

## افغانان پخپله ځانونه غرقوي

د افسوس ځای دی، چې موږ تل د فکر او منطق پر ځای د احساساتو څخه کار اخیستی او لاهم په همدغه رنځ اخته حالت لرو.  د یو کار نتیجې ته نه ګورو، تول اړخونه یې نه څیرو،  بس په پټو سترګو منډه اخلو، بیا ددې په کیسه کې هم نه یوو چې له دې به مو خلکو ته خیر که شر ډېر وي ( د ړانده ګوزار دی چې په هر چا ولګید)

موږ افغان به هیڅکله پرمختګ ونه کړو، موږ به هیڅکله د نورو هیوادونو سره سیالی ونه شو کړای، موږ به تل ذلیل او وروسته پاتې وسو، ځکه ستره تشه مو د خود خواهی عقدې پالل دي.

نن په افغانستان کې د فارسي او پښتو ژبې او قوم تر منځ جنګ روان دی، د دې پر ځای چې تعمیري او اساسي فکر وکړو، تل یو دبل پښې وهو، په لارو او کوڅو کې لاریونونه جوړوو او یو پر بل لعنت وایو.

زموږ په دغه بې اتفاقي کې د دښمنانو ګټه ده، دا هغه کارونه  دي چې زموږ دښمنانو غوښتل او غواړي یې، نن موږ پخپله د هغو د اهدافو د پوره کېدا لپاره کاروو.

د افغانستان د تجزیې موضوع خو لا د پخوا ګرمه وه او دا دول لاریونونه، د قومونو تر منځ جنګ او بې اتفاقي به افغانستان تجزیه کړي.

درنو وروونو!

که و غواړو چې افغانستان  مو خپل وي، له تجزیې  خوندي وي او د پردیو له فکري او نظامي استعمار څخه په امن اوسو، نو راځئ چې  دغه بې اتفاقي  او خپلمنځي  جنګونو ته د پای ټکی کیدو. د اسلام مقدس دین، ګران هیواد او د خپل جنګ ځپلي ولس د پرمختګ لپاره کار وکړو او نړۍ ته دا وښیو چې موږ شرپسنده نه بلکې سوله غوښتونکي وګړي او ملت یو.

د لوی افغانستان د پرمختګ په هیله

صیام الدین « پسرلی »

بازګشت به صفحه اصلی  –  www.said-afghani.org